۱۹ لارښود

# د سوداګریزو فعالیتونو ثابتې مالیې

منل خدمت | ډاډ

اطاعت پذیری | خدمت | اطمینان

Compliance | Service | Making Sure

د عوایدو لوی ریاست

ریاست عمومی عواید

Afghanistan Revenue Department

## سریزه

د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو باندې د مالیاتو قانون ۱۱ ماده پرعایداتو باندې مالیاتو پر ځای د ثابتې مالي چې په سوداګریو او ځانګړو معاملاتو باندې تطبیقیږي، حکم کوي. په ځینې مواردو کې ثابته مالیه د عایداتو باندې مالیاتو وړاندې ورکړه ده او عایداتو باندې مالیاتو او انتفاعي مالیې د اظهارنامو په اړه د مالیه ورکوونکي مکلفیت نه رفع کوي.

## د ثابتو مالیو ډولونه

لاندې ثابتې مالیې په ۱۱ فصل کې تشریح شوي دي:

- د وارده مالونو ثابته مالیه
- د سوداګرۍ په موخه د مالونو یا مسافرینود انتقال
- د قراردادیانو ثابته مالیه
- د ننداړو (نمایشونو) ثابته مالیه
- د کوچنیو سوداګریو ثابته مالیه

## په وارده مالونو باندې ثابته مالیه

هغه شخص چې اجناس واردوي باید د اجناسو د ارزښت ثابته مالیه ورکړي. د سوداګرۍ د جواز لرونکي اشخاص د ۲ په سلو کې مالیې تابع کیږي دغه ورکړل شوي مالیه لپاره به دعایداتو باندې دمالیاتو دهغه کال په اظهارلیک کې په کوم کال کې چې دغه مالیه تادیه شوې ده مجرایي (کریدت) په نظرکې نیول کیږي. هغه اشخاص چې جواز نه لري یا موقتي جواز لري د ۳ په سلو کې مالیې تابع کیږي چې دغه مالیه د کلني عایداتو باندې د مالیاتو پرځای دورکړې وړ ده

د وارده جنسونو ثابته مالیه په هماغه ځای او مهال کې چې د جنسونو ګمرکي محصولات ورکول کیږي، تادیه کیږي.

۱ بیلګه: یو افغاني شرکت په ۱۳۸۸ کال کې د ۲۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو په بیه جنسونه واردوي. د ۲۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو ارزښت ګمرکي محصولات چې د اجرا وړ دي په بر کې لري. دغه شرکت باید ۴۰۰،۰۰۰ افغانۍ د ګمرکي محصولاتو سربیره چې باید ور ئې کړي، تادیه کړي. د ۱۳۸۸ کال په پای کې افغاني شرکت باید خپله اظهارنامه ارائه کړي. اظهارنامه به لاندې پایلې وښئي:

### یادونه

د مالیې وزارت عوایدو لوی ریاست ته د لارښودونو یا فورمو په وړاندې په هره مرحله کې، د ارزونې، د مالیاتو د جمع کولو او یا د قانون د پلی کولو په مراحلو کې هیڅ ډول فیس یا لګښت نه ورکول کیږي.

کله چې یو مالیه ورکوونکی د خپل اظهارلیک په وړاندې کولو کې پاتې راځي د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې دمالیاتو دقانون مطابق پرې جریمه وضع کیږي. حتی دا جریمه په هغه صورت کې هم وضع کیږي چې مالیه ورکوونکی د اظهارلیک دپوښښ په موده کې دورکړې وړ هیڅ مالیاتي مکلفیت ونلري. مالیه ورکوونکی د جریمه کیدلو څخه دځان ژغورولو په موخه باید اظهارلیک حتی په هغه صورت کې هم وړاندې کړي چې د ورکړې وړ مالیاتي مکلفیت ونلري او په اظهارلیک کې دې درج کړي چې په دغه موده کې یې دورکړې وړ مالیاتي مکلفیت نه درلود.

عواید        ۱۰۰,۰۰۰,۰۰۰
انتفاعی مالیه        (۲،۰۰۰،۰۰۰)
عملیاتی لګښتونه    (۴۰،۰۰۰،۰۰۰)

**لګښت**
تکتانه    (۱۸،۰۰۰،۰۰۰)  (۲۰،۰۰۰،۰۰۰)

د مالیې وړعواید        ۴۰،۰۰۰،۰۰۰

ازمايښتي
پرعایداتو باندې مالیې مکلفیت        ۸،۰۰۰،۰۰۰
(۲۰ په سلو کې)

پرعایداتو باندې مالیې وړاندې ورکړه    (۴۰۰،۰۰۰)

د تادیې وړ پرعایداتو باندې مالیه        ۷،۲۰۰،۰۰۰

یادداښت: د ۲% او ۳% ثابتې مالیې برسیره د وارداتي مالونو په ارزښت باندې د انتفاعي معاملو ۲% مالیه هم شته (د ګمرکي محصولاتو په ګډون)، چې مجموعا د وارداتې مالونو په ارزښت باندې ۴% یا **۵%** مالیه د ورکړې وړ وي.

2 بیلګه: یو افغاني شرکت د ۴۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو په ارزښت په ۱۳۸۹ کال کې جنسونه وارد کړي دي. یاد شوی مبلغ د ورکړې وړ ګمرکي محصولاتو په ګډون دي. شرکت باید ۸۰۰،۰۰۰ افغانۍ د ګمرکي محصولاتو سربیره تادیه کړي. د ۱۳۸۹ کال په پای کې باید دغه افغاني شرکت خپله اظهارنامه ارائه کړي. مالیاتي اظهارنامه لاندې پایلې ښئي:

عواید        ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰

انتفاعی مالیه        ۲،۰۰۰،۰۰۰
عملیاتی لګښتونه        (۸۴،۰۰۰،۰۰۰)

تکتانه        (۱۱،۰۰۰،۰۰۰)  (۹۷،۰۰۰،۰۰۰)

د ماليې وړ عوايد  ۳،۰۰۰،۰۰۰

پرعايداتو باندې د ماليې مکلفيت  ۲۰۰،۰۰۰
(۲۰ فيصد)

وړاندې ورکړه ماليه (۸۰۰،۰۰۰)

بيرته ورکړه ماليه  (۲۰۰،۰۰۰)

کتنه: اړينه ده ترڅو يادوونه وشي چې که چيرې شرکت اظهارنامه ارائه نه کړي، د ۲۰۰،۰۰۰ افغانيو ماليې کريدت مستحق نه ګرځي.

د سوداګرۍ په موخه د جنسونو يا مسافرينو پر انتقال باندې ثابته ماليه

هغه اشخاص چې مسافرين يا جنسونه وړي بايد کلنۍ ماليه په لاندې ډول او د خپلو موټرونو د ثبت د نوي کولو څخه دمخه تاديه کړي:

| شميره | د موټر ډول | ماليه |
|---|---|---|
| | | په افغانۍ |
| ۱ | د ټن پر بنسټ موټرونه | |
| ۱ | له ۱ څخه ۲ ټنه | ۲۲۰۰ |
| ۲ | له ۲ څخه ۳ ټنه | ۳۴۰۰ |
| ۳ | له ۳ څخه ۴ ټنه | ۴۲۰۰ |
| ۴ | له ۴ څخه ۵ ټنه | ۵۰۰۰ |
| ۵ | له ۵ څخه ۲ ټنه | ۲۰۰۰ |
| ۲ | له ۲ څخه ۸ ټنه | ۷۵۰۰ |
| ۷ | له ۸ څخه ۱۰ ټنه | ۹۰۰۰ |
| ۸ | له ۱۰ څخه ۱۲ ټنه | ۱۰۵۰۰ |
| ۹ | له ۱۲ څخه ۱۴ ټنه | ۱۲۰۰۰ |
| ۱۰ | له ۱۴ څخه ۱۲ ټنه | ۱۳۵۰۰ |
| ۱۱ | له ۱۲ څخه ۱۸ ټنه | ۱۵۰۰۰ |
| ۱۲ | له ۱۸ څخه ۲۰ ټنه | ۱۲۵۰۰ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۳ | له ۲۰ څخه ۲۵ ټنه | ۱۸۵۰۰ |
| ۱۴ | له ۲۵ ټنه څخه زیات | ۱۸۵۰۰ او ۵۰۰ افغاني په هر اضافي ټن |
| ۱۵ | د یو ټریلر د منلو وړ ټنو څخه زیات | د ۵۰۰ کیلو گرامو څخه پورته او بیا ۲۰۰ افغانۍ په هر ټن |
| | | |
| ۲ | مسافر وړونکي موټرونه | |
| ۱ | ټکسي د ۳ څخه تر ۵ کسو پورې ظرفیت سره | ۲۰۰۰ |
| ۲ | ټکسي د ۵ څخه زیاتو کسانو له ظرفیت سره | ۲۰۰۰ ۲۰۰ افغانۍ پر هر اضافي سیټ |
| ۳ | ۱۴ سیټه مینی بس | ۲۲۰۰ |
| ۴ | نور بسونه له ۱۵ څخه تر ۲۱ سیټه پورې | ۴۰۰۰ |
| ۵ | نور بسونه له ۲۲ څخه تر ۲۹ سیټه پورې | ۲۰۰۰ |
| ۶ | نور بسونه له ۳۰ څخه تر ۳۹ سیټه پورې | ۷۰۰۰ |
| ۷ | نور بسونه له ۴۰ څخه تر ۴۹ سیټه پورې | ۷۵۰۰ |
| ۸ | نور بسونه له ۵۰ څخه تر ۶۰ سیټه پورې | ۸۰۰۰ |
| ۹ | نور بسونه له ۶۰ سیټه څخه زیات | ۸۰۰۰ او ۲۰۰ افغانۍ پر هر اضافي سیټ |
| | | |
| ۳ | د سلندر پر بنسټ عرادجات | |
| ۱ | ۴ سلندره | ۱۵۰۰ په یو موټر |
| ۲ | ۶ سلندره | ۲۰۰۰ په یو موټر |
| ۳ | ۸ سلندره | ۳۰۰۰ په یو موټر |
| ۴ | تر ۸ زیات سلندره | ۳۰۰۰ او ۵۰۰ افغانۍ په هر اضافي سلنډر |
| | | |
| ۴ | ریکشاء | |
| ۱ | د موټر سکیل ریکشا | ۵۰۰ |
| ۲ | ریکشاء | ۱۰۰۰ |

دغه مالیه د هغو موټرونو د خاوندانو څخه چې د مسافرینو او جنسونو د وړنې راوړنې په موخه ورڅخه گټه اخلي، او پورته په لست کې درج شوي دي، اخیستل کیږي.

۱ بیلگه: پرعایداتو باندې دمالیاتو د قانون ۷۱ مادې سره سم د هر شخص څخه چې د دوه ټکسیانو خاوند دی په هر کال کې چې ټکسي فعالیت لري ۴۰۰۰ افغانۍ ثابته مالیه ترلاسه کیږي.

۲ بیلگه : یو شخص د یوې لارۍ خاوند دی چې دوه ټنه ظرفیت لري. دغه شخص باید په کال کې ۲،۲۰۰ افغانۍ د لارۍ د ثابتې مالیې په توګه ورکړي.

۳ بیلگه: د یو موټر ثابته مالیه په بشپړ ډول سره په یوې کټګورۍ یا طبقه بندی پورې د هغې د مشخصاتو له مخې نه محدودیږي بلکه کیدای شي د هغې د ګټې اخیستنې په خاطر په بله کټګوري کې شامله شي.

یوه یو ټنه لارۍ چې په معمولي صورت سره ۲۲۰۰ افغانۍ ارزښت لري او له هغې څخه د مسافرینو د وړنې لپاره د ټکسي په توګه ګټه اخیستل کیږي، د یو بس سره مساوي ده. د یو بس د واردې د مالیې ثابت نورم ۴۰۰۰ افغانۍ ده.

۴ بیلگه: یو شخص چې یوه ګاډۍ لري (د پیسو په وړاندې د شخص یا جنسونو د انتقال لپاره ورڅخه ګټه اخلي) دمالیاتي موخو لپاره د ریکشا ګانو په ډول باید په کال کې ۱۰۰۰ افغانۍ د ګاډۍ د ثابتې مالیې په توګه تادیه کړي.

د ټرانسپورټ ثابته مالیه د عایداتو باندې مالیاتو پرځای ده چې پر هغو عوایدو چې ددې عراده جاتو د سوداګریزو فعالیتونو څخه لاسته راځي، تطبیقیږي. که چیرې مالک نور د مالیې وړ عواید ولري، هغه عواید چې د عراده جاتو د پورته لست شوو سوداګریزو فعالیتونو څخه لاسته راځي، باید یادداشت شي خو د عایداتو باندې مالیاتو په اظهارنامه کې شامل نکړل شي.

## د قراردادیانو ثابته مالیه

هغه اشخاص چې د فعالیت د جواز څخه پرته د منظور شوې اساسنامې خلاف اجناس ، مواد ، خدمتونه او ساختماني د دولتي ادارو ، ښاروالیو ، دولتي نهادونو ، د سوداګریز خصوصي سکتورونو او غیر دولتي ادارو او نور اشخاصو د قراردادونو پر بنسټ وړاندې کوي، د عایداتو باندې

مالیاتو پر ځای د ۷ په سلو کې ثابتې مالیې تابع کیږي. دغه مالیه د قراردادي د ورکړې وړ ناخالص مبلغ څخه وضع کیږي.
هغه اشخاص چې د فعالیت جواز لري اویادو شوو نهادونو ته پورتني خدمتونه وړاندې کوي پر قرارداد باندې ۲ په سلو کې مالیې تابع کیږي. دغه مالیه د راتلونکو مالیاتي مکلفیتونو په وړاندې اعتبار لري.

یادداښت: که چیرې قراردادي داسې خدمتونه وړاندې کوي چې د قرارداد په جواز کې نه دي پوښل شوي، نو په هغه صورت کې ۷% موضوعي نورم تطبیقږي.

## په ننداړو (نمایشونو) باندې ثابته مالیه

په ننداړو باندې ثابته مالیه د افغانستان په میشتو حقیقي اشخاصو او غیر میشتو حقیقي او حکمي اشخاص باندې چې سرګرمي پروګرامونه لکه تیاتر، ننداری، راډیو، ټلویزیون، موسیقي یا ورزش وړاندې کوي، د تطبیق وړ ده. ددې فعالیتونو عواید د ټکټونو د پلورلو ۱۰ په سلو کې کیږي. ثابته مالیه د عایداتو باندې مالیې او انتفاعي مالیې پر ځای وضع کیږي. ثابته مالیه په میاشتنی شکل د ورکړې وړ ده او نه باید د راتلونکې میاشت د پنځه لسمې څخه وروسته ورکړل شي. که چیرې یاد شوي ننداری دوام لرونکې نه وي، مالیه باید تر دهرې ننداري د سرته رسونې وروسته ورکړل شي.

نور اشخاص چې سرګرمي او تفریحي خدمتونه وړاندې کوي د عایداتو باندې مالیې او انتفاعي مالیې تابع کیږي.

## د کوچنیو سوداګریو ثابته مالیه

حقیقي یا انفرادي اشخاص چې سوداګریز فعالیتونه (لکه دکانداري، او نور کوچنې سوداګریز فعالیتونه چې تفصیلي سوابق له ځانه سره نه ساتي) ترسره کوي او د لاندې شرایطو لرونکي دي، دثابتې مالیې تابع دي:

حقیقي اشخاص چې داسې عاید لري کوم چې له مالیې معاف نه دي، یا د موضوعي مالیې تابع کیږي.

- د حقیقي اشخاصو کلني ناخالص عواید په هر مالي کال کې له ۳،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو لږوي.
- پاتي نور حقیقي اشخاص ملزم دي ترڅو خپل د عایداتو باندې مالیاتو اظهارنامه ارائه کړي.

## په کوچنيو سوداګريو باندې د ثابتې ماليې تاکل

که چيرې يو حقيقي شخص په يو مالي کال کې د هغو سرچينو له درکه چې د موضوعي ماليې تابع دي او يا د نورو سرچينو له درکه د ۶۰٬۰۰۰ افغانيو څخه زيات عايد ترلاسه نه کړي، دغه حقيقي شخص له ثابتې ماليې معاف دی او بايد د موضوعي ماليو د کريدت د ادعا لپاره پر عايداتو باندې مالياتو اظهارنامه ارائه کړي.

که چيرې يو حقيقي شخص په يو مالي کال کې له ۶۰٬۰۰۰ افغانيو زيات او له ۱۵۰٬۰۰۰ افغانيو کم عايد لاسته راوړي، د معافو عوايدو او د موضوعي ماليې تابع عوايدو څخه پرته، دغه شخص د مالي کال په هره ربعه کې د **۵۰۰** افغانۍ ثابتې ماليې په ورکړه ملزم دی.

که چيرې ديو حقيقي شخص په يو مالي کال کې عوايد له ۱۵۰٬۰۰۰ افغانيو زيات او له ۵۰۰٬۰۰۰ افغانيو کم لاسته راوړي، د معافو عوايدو او د موضوعي ماليې تابع عوايدو څخه پرته، دغه شخص د مالي کال په هره ربعه کې د ۲۰۰۰ افغانۍ ثابتې ماليې په ورکړه ملزم دی.

که چيرې يو حقيقي شخص په يو مالي کال کې له ۵۰۰٬۰۰۰ افغانيو څخه زيات او له ۳٬۰۰۰٬۰۰۰ افغانيو څخه کم عوايد لاسته راوړي، د معافو عوايدو او د موضوعي ماليې تابع عوايدو څخه پرته، هغه د ۳ په سلو کې د لاسته راوړل شوو ناخالصو عوايدو ماليې تابع دی. د ۳ په سلو کې د لاسته راوړل شوو ناخالصو عوايدو ماليې پر ځای حقيقي شخص کولای شي چې اظهارليک وړاندې او پر ناخالصو عايداتو باندې د انتفاعي معاملو ماليه او پر خالصه ګټه باندې پرعايداتو باندې ماليه ورکړي. د عايداتو باندې مالياتو د ورکړې خوښه له دريو کلونو له مودې څخه کم نه شي کيدای.

## ماليـاتو اړونـد مالـومـات

د عوايدو لوی رياست اداري او مستوفيتونه ماليه ورکوونکو ته په وړيا توګه فورمې، لارښودونه او لارښوونې وړاندې کوي چې دا مواد په چاپ شوې او همداراز له يوه نوې ويب پاڼې http://www.ard.gov.af څخه د رانښکته کيدو وړ بڼو ترلاسه کيدای شي. ياده ويب پاڼه د عوايدو د لوی رياست او مستوفيتونو موقعيتونه، د اړيکو شميرې او کاري ساعتونو په اړه مالومات وړاندې کوي. ماليه ورکوونکي همداراز کولای شي نور

ګټور مالومات لکه عامې خبرتیاوې او طرزالعملونه، د معاش د موضوعي ماليې په اړه پوښتنې او ځوابونه، د ۱۳۸۷ کال پر عایداتو د مالیاتو قانون، او تعلیماتنامه ترلاسه کړي. یاده تعلیماتنامه د قانون هره ماده او اړوند مقررات په جلا توګه څیړي او د ګټورو بیلګو په لرلو سره مالیه ورکوونکو ته لا ډېره آسانتیا په برخه کوي.

001E 01 03 2012

د افغانستان اسلامی جمهوریت
د مالیی وزارت
د عوایدو لوی ریاست
۱۳۹۱

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Finance
Afghanistan Revenue Department
1391
*www.ard.gov.af*

جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت مالیه
ریاست عمومی عواید
۱۳۹۱